شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(۸) صفحه

جنگ میان نیروهاي متخاصم دربغلان فروکش کرده است

بغلان - ١٦ جوزا :

یك منبع جهادي ولایت بغلان گزارش میدهدجنگ هاي شدیدي که بین نیروهاي متخاصم دربغلان پس ازعیدقربان آغازشده بودفعلاً ازآن کاسته شده است .

طبق گزارش قبلاً چندسرگروپ جمعیت به فرقه ٨٠ پلخمري که مربوط به سیدکیان است تسلیم شده بود که به همین منظور بین دوطرف درگیري صورت گرفت ، وهردوطرف مواضع یکدیگررا هدف حملات سلاح هاي ثقیله قرارداده تلفات وخسارات زیادي به هردوطرف وارد آمد .

درخبرعلاوه گردیده که نیروهاي جمعیت مناطق چاردهي ، یرم وچندین نقاط دیگررا ازدست داده اند . درخبرعلاوه گردیده که فعلاً جنگ هافروکش کرده است .

دمخابراتودوزير وروروقاضي محمدامين «وقاد» ترمشري لاندي يوهيئت كابل ته لاړ

كابل - دغبرګولي ١٧ مه :

دپیام آزادي راډیوخبروړکري چي تیره ورځ دمخابراتو دوزیر مجاهدوروقاضي محمدامین «وقاد» ترمشري لاندي یولوړرتبه هیئت کابل ښارته ورسید.

خبرځاي لیکي داهیئت به چي دحزب اسلامي اودولت لوړرتبه مامورین پکي برخه لري دافغانستان ستونزي دحل اودجلال آباددموافقتنامي اودمکي مکرمي دمیثاق دعملي کولو په لارو چارولــه مربوطه مقاماتوسره خبري اتري وکړي .

په خبرکي زیاته شوي چي وروروقاضي محمدامین «وقاد» تردي وړاندي په چهارآسیاب کي دصدارت عظمي په موقتي دفترکي دکابینې په غونډه کي برخه اخستي وه

شمارهٔ مسلسل (٦٤٣) سال شانزدهم شمارهٔ (٣١) سه شنبه (١٨) جوزا ١٣٧٢ هـ ش (١٨) ذي الحجه ١٤١٣هـ ق (٨) جون ١٩٩٣ م

بیه: یوه روپی یا ٥٠ افغانی

نخستین جلسهٔ کابینهٔ دولت اسلامي افغانستان تحت ریاست برادرحکمتیارانعقادیافت

چهارآسیاب - ١٦ جوزا : خبرنگارادیوپیام آزادي ازدفترموقتي صدارت عظمى به اداره شهادت گزارش میدهدکه نخستین جلسه کابینه دولت اسلامي افغانستان روزیکشنبه تاریخ ١٦ جوزای سال جاري تحت ریاست برادرحکمتیار صدراعظم کشور درمقرموقتي صدارت عظمى درولسوالي چهارآسیاب واقع جنوب شهرکابل انعقاد یافت .

درخبرعلاوه شده درین جلسه که همه وزراي موجود درداخل کشور درآن شرکت ورزیده بودندساعت ١١ بجه قبل ازظهرآغازوالي ٢ بجه بعدازظهرهمان روز ادامه یافت .

طبق گزارش : درین جلسه روي موضوعات ومسایل اساسي کشوربحث همه جانبه وتفصیلي صورت گرفت ، جلسه بعدي ان شاء الله باتشریف آوري سایروزراي که درخارج کشوراند درطي دوروزآینده آغازخواهدشد .

طبق گزارش : وزراي که درین جلسه حضوریه هم رسانیده بودند عبارت بودند از: قاضي محمدامین وقادوزیرمخابرات ، مولوي جلیل الله «مولوي زاده» وزیرتعلیم وتربیه ،آغاي محمدعلي جاوید وزیرپلان، سیدسلیمان گیلاني وزیرسرحدات، انجنیرفیض محمد وزیرساختماني ، هدایت امین ارسلا وزیرخارجه ، سیدحسین انوري وزیراموراجتماعي وحیات الله بلاغي وزیرتجارت

متحده ایالات اوروسیه غواړي چي دمنځني ختیځ دسولي خبري بیاپیل کړي

واشنګټن - دغبرګولي ١٧ مه : متحده ایالاتواوروسیې پیشنهادکړي دي چي دمنځني ختیځ دسولي دخبرو دور به دجون په ١٥ مه پیل شي .

په دمشق کي دسوریي مامورین وایي دوي ته ددغوخبرو ددوو سرپرستانو له خوا داوخت ورکول شوي دي .

دمنځني ختیځ دسولي په خبروکي به هغه عربي هیوادونه چي داسرائیلو سره خبروته کیني داردن په پایتخت عمان کي سره وګوري ترڅو چي یو واحد دریځ غوره کړي اودخپلي ستراتیژي په برخه کي پیوستون راولي په عین حال کي دفلسطین دمذاکراتو دهیئت مشر فیصل حسین وایي چي دي به ژرواشنګټن ته ولاړشي چي په اشغال شویو سیمو کي دفلسطینیانو لخوادموقتي حکومت په جوړولو کي دمتحده ایالاتو په دریځ باندي بحث وکړي .

کمیسیون هاي وزارت خانه ها تشکیل جلسه دادند

کابل - ١٦ جوزا : رادیوپیام آزادي به نقل ازیک منبع دفترخاص صدارت عظمى گزارش میدهدکه کمیسیون هاي انتخابي وزارت خانه هابه روزیکشنبه گذشته درولسوالي چهارآسیاب تشکیل جلسه دادند .

طبق گزارش : کمیسیون هاي متذکره درارابطه به امنیت راه ها ورساندن مواد خوراکه ، وسوخت وغیره مسائل مهم کشوربحث نموده وتصامیمي اتخاذ کردند

تشعشعات ناشي ازحادثهٔ هستوي «توم» ٨٠٠ کیلومترمربع ساحه راآلوده کرده است

مسکو- ١٦ جوزا: تشعشعات ناشي ازحادثه هستوي درمنطقه توم روسیه ساحه به وسعت ٨٠٠ کیلومترمربع را آلوده کرده است . طبق گزارش فرانسهٔ کارشناسان وزارت محیط زیست روسیه گفته اند مواد هستوي درعمق خاک این منطقه کشف شده است ، اما میزان تشعشعات کشف شده به ثبت نرسیده است .

حادثه "توم" خطرناکترین حادثه هستوي پس ازانفجار " چرنوبیل" درسال ١٩٨٦ ذکرشده است .

داشغالګروقواوو دوه منصبداران ورک شویدي

نوي ډیلي - دغبرګولي ١٧ مه : دهند اشغالګري قواوي په نیول شوي کشمیرکي دهند دحکومت دپولیسو ددوو ورکوشویوصاحب منصبانوپیداکولو لپاره په سخت تلاش لګیادي .

په نیول شوي کشمیرکي دهندحکومت یوه نطاق وویل دغه صاحب منصبان دوروستي ځل لپاره دتیري چهارشنبي په ورځ په سرینګرکي دسودااخستلو په حال کي نیول شوي ده وویل چي کیدای شي دغه دوه صاحب منصبان به مسلمانو مبارزینوتښتولي وي مګریوي دلي هم چي په کشمیرکي دهند دواکداري دختمولو لپاره جنګیږي ددغوصاحب منصبانودتښتولومسئولیت په غاړه ندي اخستي .

ملګری ملتونه بوسنیاته نوی عسکرلیږي

سرایبو - دغبرګولي ١٧ مه : دبوسنیا صربي قواوو یوځل بیا دملګروملتونو کتونکي پري نښودل چي ګراژدي ته چي په بوسنیا هرزوګویناکي دهغو شپږوسیموله جملي څخه ده دمحفوظو سیمو په توګه اعلان شوي ننوزي .

دملګروملتودامنیت شورا رایه ورکړه چي بوسنیا هرزوګوینانه اضافي عسکرچي هوایي ملاتړبه ورسره وي ولیږي ترڅوچي دغه محفوظي سیمي وساتي مګربه تیره هفته کي دملګروملتونو کتونکو ته اجازه نده ورکړشوي چي دغه ښارته چي هلته دسختو جګړو رپوټونه ورکړشوي دي داخل شي دیوبل خبرله مخي دبرطانیي سوله ساتونکوعسکرو هغه سل کسه مسلمان مهاجرکارګرپرینښودل چي په مرکزي بوسنیا کي خپل هغه مرکزته ځان ورسوي چي ملګروملتوورته جوړکړي دي .

دولت الجزایر درسه ایالت دیگرآنکشور قیودات رفت وآمد شبانه اعلان کرد

الجزیره - ١٦ جوزا : دولت الجزایر به منظور مقابله بامسلمانان انقلابي درسه ایالت دیگرآنکشور مقررات منع رفت وآمد شبانه رااعلان کرد .

طبق خبر: درهفت ایالت الجزایر چندي قبل قیودرفت وآمدشبانه مورد اجراگذاشته شده بود، گفته مي شودکه دولت الجزایر درصدداست تا فعالیت هاي مسلمانان آنکشوررا به شکلي ازاشکال سدنماید مسلمانان الجزایر درتلاش استحکام حکومت اسلامي در آنکشوراست ودرانتخابات ٨٥ فیصد راي رابدست آورده بودٌولي نظامیان علیه آن کودتانمودند .

اعلامیه قوماندانان جبهات اطراف کابل

ص(٧)

اعلامیه دفترصدارت عظمي دولت اسلامي افغانستان

ص(٧)

طي چندروزگذشته ١٢٠تن ازاعضای سازمان اسلامي حماس توسط اسرائیلي هااسیرشدند

تل ابیب - ١٦ جوزا : اسحق رابین نخست وزیر اسرائیل اعتراف نمودکه درچندروزگذشته اقلاً ١٢٠ عضوسازمان فلسطیني هاي بنیادگراي اسلامي حماس توسط قواي اشغالګراسرائیل بازداشت شده است .

بایدگفت که پس ازکشته شدن یانام بوک که حماس مسئولیت آنرابدوش گرفته است،بیش ازچهارصدفلسطیني ازخانه هاي شان به جنوب لبنان تبعیدشده بودندکه اکثرآنهاتاهنوز درآنجا به سرمي برند .

درزدوخوردهای شورشیان یونیتا باعساکر انگولا ٩٩ نفرکشته شد

لووندا - ١٧ جوزا: شورشیان یونیتا اعلان کردند روزیکشنبه درنبردهاي چهارساعته بانیروهاي دولتي انگولا درشهرلووندا ٩٩ سربازدولتي رابه قتل رسانیده اند . طبق گزارش رادیوتهران این واقعه درشهر شرقي انگولاواقع گردیده که ازدوماه پیش درمحاصرهٔ شورشیان قرارداشت ، رادیوي شورشیان مي گویدکه یونیتامقر فرماندهي سربازان دولتي رادرلووندا منهدم کرده اند نیروهاي ارتش انگولا نیزاعلان کردند مواضع شورشیان رادراطراف شهرلووندا درخلال دو روزگذشته گلوله باران کرده وتعداد تلفات وارده به شورشیان درین عملیات سنگین بوده است .

یلتسین دروسیي لپاره نوي اساسي قانون جوړوي

روسیه - دغبرګولي ١٧ مه : بوریس یلتسن په مسکوکي یوه خاص کنفرانس ته په ویناکي وویل چي دي به دهیواد لپاره یونوي اساسي قانون جوړکړي اودشوروي اتحاد ورستني بقایابه له منځه یوسي ترڅودده دریځ لاپیاوړي شي .

یلتسن وویل چي اوسني پارلمان اودخلکو داستازوکانګریس ګواښ کړي دي چي دقدرت یوبل مرکز جوړاوهیواد ټوټي ټوټي کړي هغه وویل چي باید داکتوبرتر میاشتي پوري نوي انتخابات ترسره شي . ده خبرداري ورکړچي که پارلمان دده داغوښتنه ونه مني هغه به دخپلي غوښتني دمنلولپاره نوري لاري چاري ولټوي په خبرکي ویل شوي چي په پدي کنفرانس کي خسبلاتوف ته دخبرواجازه نده ورکړشوي اوهغه له خپلو (٥٠) کسو ملګروسره دپارلمان نه وتلي دي

دردرگیري بین نیروهاي پاسدارصلح وافراد مسلح صومالیا ٢٨ پاکستاني به قتل رسیدند

نیویارک - ١٦ جوزا : دولت پاکستان خواستارتشکیل جلسه اضطراري شوراي امنیت براي رسیدگي برمسئله به قتل رسیدن ٢٨ نفرعسکر آنکشور درصومالیا شد .

طبق گزارش دردرگیري هایک روزقبل بین نیروهاي پاسدارصلح وگروپ هاي مسلح جنرال ایدیدکه درموگادیشو روي داد حداقل ٢٨ نفرپاکستاني کشته و٥٠ نفردیگرزخمي گردیدند . درخبراضافه شده که به همین تعداد صومالیایي نیزکشته وزخمي داده اند.

گفته مي شوددرگیري درموگادیشو زماني آغازشدکه نیروهاي پاسدارصلح سازمان ملل سعي کرده است دستگاه رادیویي را که ازسوي جنرال محمد فرح ایدیدرهبرجناح اصلي مسلح درصومالي اداره مي شد اشغال کند.

درزدوخوردهای جمهوری آذربایجان چندین نفر کشته وزخمی گردیدند

باکو- ١٦ جوزا : به اساس گزارش منابع خبري جهان دراثرزدوخوردها وناآرامي ها درشهرجنجه دومین شهرجمهوري آذربایجان اوضاع هم چنان بحراني مي باشد .

رادیوي ایران به نقل ازخبرنگارش ازباکوگزارش میدهدکه ابوالفضل ایلچي بیک رئیس جمهورآذربایجان روزیکشنبه طي پیامي ازرادیو تلویزیون مردم شهرجنجه رابه تنظیم وآرامش دعوت نموده است ، درگیري هادرشهرجنجه آذربایجان روز جمعه زماني آغازشدکه گروهاي مسلح چندین مقرنیروهاي نظامي آذربایجان رامورد حمله قراردادند . این درگیري ها اقلاً ٥٠ کشته وزخمي بجاگذاشت .

په جرمني کي دترکانودوونورو ځایونوته اورواچول شو

برلین - دغبرګولي ١٧ مه : دجرمني مقاماتو رپوټ ورکوي چي فقط څوساعته مخکي له دي چي په جرمني کي دنژادي تشددا تاوتریخوالي په مقابل کي ستري مظاهري پیل شي دترکانوپه دوو ځایونوباندي اوربلوونکي بمونه غورځول شوي دي .

په آتینګین کي دترکانو یو کوراورواخیست اودجرمني په لویدیزښارګوتي کوستانس کي دیوه ترکي رستوران هم وسوځول شو . په دغوحملوکي چي ګمان کیږي دنوي نازیانو کاروي څوک زخمي شوي ندي ..

تردي دمخه دجرمني خارنوالا نودري ځوانان چي دپنجشنبي په ورځ بندي شوي وو دهغه اورواچولو دحملي په ارتباط چي تیره هفته

(٢)مخ

شورای امنیت سازمان ملل متحد حملات صومالیایی هاراعلیه عساکران مؤسسه تقبیح نمود

نیویارک - ١٧ جوزا : شوراي امنیت سازمان ملل متحد حملات شبه نظامیان صومالیائي راعلیه عساکر موسسه ملل متحد بااکثریت آراء تقبیح نموده است .

طبق گزارش شوراي امنیت سازمان جهاني تقاضاي توقیف ومجازات شبه نظامیان صومالیائي راکرده است که دوروزقبل به تعداد ٢٨ تن ازعساکرپاکستاني موسسه ملل متحدرابه قتل رسانیده بودند .

ص(٢)

دجلال ابادموافقتنامي دعملي کولو په لارکي خنډونه پیداکول نه بلکي دلاري اوارول پکاردي

دجلال آباد دموافقتنامي له لاسلیک کولو څخه تقریباً دري هفتي تیري شوي ،ولي تراوسه هم ځیني ارخونه لادیته تیارنه ښکاري، چي دهغي په عملي کولو کي مرسته وکړي ،بلکي رازرازبهاني اومشکلات راولاړوي، ترڅودامعاهده هم دتیرو تړونونو په سرنوشت اخته اویه هیوادکي دجګړي اوربل وساتي .

دغه موافقتنامه چي داسلام آباددمعاهدي اومکي مکرمي دمیثاق دعملي کولو په جهت کي دجهادي مشرانوترمنځ دشلو ورځوبرله پسي بحثونو اوخبرواترو وروسته دکابینې اوځیني کمیسیونو نویه تشکیل کي یولوي ګام ؤ زموږدمظلوم اوځپل شوي ملت دمرګواندامیدونو دبیرته راتاندیدوسبب شوه ، تردي دوو ورځو دمخه پوري هم په هماغه نکته کي ولاړه او عملي بڼه یي نه وه خپله کړي، چي لاسلیک شوي وه. ولي پکارخوداوه چي دثور د ٣٠ مي ورځي څخه یعني کله چي ددولت درئیس له خوا دکابینې رسمي اعلان وشو، وزیرانوبه خپل کاربیل کړي واي، ځکه چي پخواني کابینه په قانوني ډول منحل شوي وه. خودادي تراوسه هم وینوچي نوي کابینې ته لاڅوک دکارکولو موقع نه ورکوي اوپخواني وزیران لابه کارلګیادي . حتي کابل راډیوخولاپدي هم ځان پرونه ګاڼه، چي دجهادي مشرانودموافقتنامي په اساس نوي تشکیل شوي کابینه بمحض اعلان کړي. ان تردي چي ځیني ارخونوخوددي موافقتنامي دسبوتاژکولولپاره دجګړي اورهم بل کړ، په کابل ، پروان اوکاپیساکي یي حملي پیل کړي، خوله دي سره سره بیاهم دلوي خداي (ج) په فضل زموږجهادي مشران له ٢٠ ورځو بحث وروسته دیوي موافقتنامي په لاسلیکولوبریالي شول چي داکاردسولي په لارکي دبریاوچونکي خوله یوکلک ګوزارو.

په هرصورت دادي له دریو هفتوڅخه وروسته چي اوس دهیوادمحترم صدراعظم دکابینې لومړي غونډه راوبلله اوتقریباً دټاکل شوو غړونیمایي دصدارت عظمی په مؤقتي مقرکي غونډي ته حاضراونوروبي هم بلنه ومنله خوبه داخل کي دنه موجودیت له امله راونه رسیدل، اوحاضروغړو دمربوطومسائیلو په اړوند بحث اوخبري وکړي دراتلونکو غونډودوخت اوځاي په هکله یي هم تصمیم ونیو، چي داکاربخپل ذات کي دجلال اباد دمعاهدي دتطبیق په لارکي لومړي عملي ګام و. خو دادي بیاپه جګړه

٨ مخ

سخن روز

تشکیل نخستین جلسهٔ کابینه گامي بزرگ بسوي اعادهٔ نظم وآرامش

عبدالله « وارسته »

روزیکشنبه شانزدهم جوزااولین جلسهٔ کابینه به ریاست انجنیرحکمتیار نخست وزیرکشور درچهارآسیاب دایرگردید، دراین جلسه نه تن ازوزراي کابینه اشتراك ورزیده بودندکه بادرنظرداشت عدم حضوراکثریت وزرادرداخل کشوررقم اعظمي محسوب میگرددزیراطوریکه آشکاراست عده يي ازوزراغرض اداي فریضهٔ حج درعربستان سعودي هستند ودسته يي دیگرهنوز ازمرخص هاي عیدسعیداضحي که به خانه هاي خویش رفته اندبازنگشته اند .

صرف نظرازآنکه دراین اجلاس کابینه روي چه مسائلي بحث صورت گرفته تشکیل اجلاس بخودي خود مؤفقیت بزرگي براي کابینهٔ جدیدوشخص نخست وزیرمحسوب میگردد چون ناگفته پیداست که هنوزهستندعناصري که درراه آغازکاراین کابینه سنگ اندازي مي نمایند ومیخواهند به لطایف الحیل این جریان رابه تعویق اندازند .

اگراندکي به عقب برگردیم دیده میشودکه بایدکابینهٔ جدیددرظرف دوهفته پس ازامضاي معاهدهٔ اسلام آبادتشکیل وبه کارخود آغازمیکردوروي چنین ملحوظي نخست وزیرحدودیك هفته پس امضاي آن پیمان جلسهٔ رهبران تنظیم هارادرشهرجلال آبادفراخواندتاروي تشکیل کابینه باایشان مشورت شود اماچنانچه دیدیم رهبران عده يي ازتنظیم ها نه تنها دراجلاس جلال آباد شرکت نکردند بلکه ازاشتراك درجلسه بعدي که درچهارآسیاب فراخوانده شده بود نیز طفره رفتند وزمینه بازبراي کساني مساعدگردیدکه میخواستند وضع آشفته ودرهم وبرهم درکشورکمافي السابق ادامه یابدتاایشان ازآب گل آلودماهي بگیرنداین وضعیت یکي دوماهي دوام کردتارهبران اکثریت تنظیم هاي جهادي تشخیص دادند که باید براي رهایي ازاین منجلاب راهي سنجید، همان بودکه جلسهٔ رهبران تنظیم هاي جهادي درشهرجلال آبادآغازگردید، این مذاکرات که خیلي طولاني ودشواربودسرانجام نتیجه داد ورهبران تنظیم هاي جهادي روي تشکیل کابینه به توافق رسیدند که به اساس آن چندوزارتخانه مهم به صورت شورایي اداره خواهدشدومقررگردیدکه تمام تنظیم هایك ، یك تن ازاعضاي خویش راجهت عضویت درکمیسیون هاي که ادارهٔ وزارت هاي دفاع وداخله رابرعهده خواهندداشت معرفي نمایند ودرراس کمیسیون وزارت دفاع استادبرهان الدین رباني رئیس جمهورودرراس کمیسیون وزارت داخله انجنیرگلبدین حکمتیارنخست وزیرکشورقرارخواهندداشت بعدازامضاي این موافقت نامه طوریکه انتظارمیرفت علي الرغم کارشکني عده يي ازافراد که پیوسته پیروزي ومنافع خویش رادرجنگ وبربادي ملت مسلمان افغانستان جستجومي نمایندآتش بس درشهرکابل برقرارگردیدومردم آن شهرنفسي براحت کشیدند .

بعدازآنکه تمام اینکارهاانجام پذیرفت وقت آن بودکه کابینهٔ جدیدبه کارخویش آغازنماید وفراخواندن نخستین اجلاس کابینه گام خیلي کامیاب وبجابودزیراهمین کابینه است که بایدقدرت رادرکشوربدست گرفته به وضع ناهنجاري که درگوشه وکنارکشورحاکم است پایان بخشد، همین کابینه است که بایدجلوجنگ افروزي هاي عناصرجنگ طلب رابگیرد وهرکس راسرجاي خودش بنشاندوبالاخره همین کابینه وظیفه داردکه بایددرمورد مسائل مهم وحیاتي کشورتصمیم بگیردونگذاردحاصل توافق جلال آباد نیز مانند موافقت نامه هاي قبلي دراثرجنگ وعدم توجه به مفاد آن دستخوش فراموشي گردد .

بادرنظرداشت وظایف سنگین وخطیري که این کابینه داردمسلم است که عناصرجنگ طلب ودسته هامربوط به حکومت کمونستي سابق میخواهند به هرقیمتي که باشدازتشکیل اجلاس هاوآغازکاراین کابینه جلوگیري بعمل آرندوازسوي دیگرچون ظرف بیش ازیك سال گذشته توافقات زیادي صورت گرفته وبه هیچ کدام عمل نشده است عده يي چنان فکرمیکردندکه موافقت نامهٔ جلال آباد نیز به سرنوشت امثال خودمواجه خواهدشدوتوافق روي کابینه فقط به همان روي کاغذ محدود خواهد ماند ودرعمل چیزي به مشاهده نخواهد رسیدلذابادرنظرداشت دوعلت بزرگ فوق الذکر که هریك مانع بزرگي محسوب میگرددتشکیل نخستین جلسهٔ کابینه درچهارآسیاب وآنهم به اشتراك عددرشتي ازوزراء موفقیت بزرگي براي نخست وزیروکابینهٔ جدیدمحسوب میگرددواکنون میتوان آرزوکردکه واقعات تلخ وغم انگیزیك سال گذشته دیگرتکرارنخواهد شدوکابینهٔ جدیدخواهدتوانست بزودي براموررمسلط گردیده وبه هرومرج موجود درکشورپایان دهدپس بایدتشکیل نخستین اجلاس کابینه راموفقیت عظیم وگامي بزرگ درجهت اعادهٔ نظم وآرامش درکشورخواند .

دنړیوال استکباردښمني چي له اسلام اومسلمانانوسره يي لري، اوس بیخي ځرګنده اوله هیچاڅخه پټه نه ده .

ځکه استکبار اصلاً داسلام اومسلمان له نامه سره حساسیت لري اوهڅه کوي چي په یوه اوبل نامه يي له منځه یوسي ولي ترټولومهمه دبنیادګرایي اصطلاح ده چي دمسلمانانودځپلو لپاره دهغوي په لاس ورغلي ده چي وخت ناوخت يي کاروي، خوپه هغوهیوادوکي چي په هیڅ صورت هم دبنیادګرایي اصطلاح کارګره نه شي واقع کیداي، هلته هم په پټوسترګو په اصطلاح خپل ټول اصول ترپښولاندي کوي اوداسلام په خلاف عمل کوي. هغوته نه جمهوریت اودیموکراسي مطرح ده اونه اعتدال اونرمش ، بلکي په کوم شکل چي مسلمانان له پښوغورځولاي اودنوروډغلامي په کړي کي راګیرولاي شي صرفه اودریغه نه کوي . په الجزایرکي دمسلمانانو حالت دهرچاښه په یاددي، چي په سلوکي پنځه اتیاخلکوداسلامي جبهي ملاتړوکړ ، خوچي داستکبار خوښه نه وه نودنظامیانوله خواداداکثریت جمهوریت په کودتايي ډول ختم شو، دمسلمانانومشران ونیول شول ، خوامریکااواندیوالانويي نه یوازي دهغه مخالفت ونه کړ، چي ددغه شوم عمل ستاینه يي هم وکړه . همدي ته ورته په نورو په نامه اسلامي اوغیراسلامي هیوادونوکي چي پرمسلمانانو څه میچني تاویږي، زندانونه پري ډکیږي دادجمهوریت ټیکه داران هیڅ عکس العمل نه ښئي، خوکه يوغیرمسلمان مرتد، یامسیحي اویهودي په حقه اوله قانون سره سم هم اعدام شي، چیغي يي تراسمانورسیږي، چي ګواکي جمهوریت ختم شو، دبشردحقوقو (!) څخه تیري وشو، داقلیتونوحقوق خوندي نه دي اوداسي نور.

تعجب خودادي چي په دي ټولو کارونوکي په اصطلاح نړیواله موسسه « ملل متحد » هم ورسره مل اودامریکااواندیوالانوپدلي يي بولي، له قوماندي سره سم يي عمل کوي.

مطلب داچي چیرته چي دنړیوال استعماراوپه سرکي يي دامریکاګټي ایجابوي، هرڅه جایزبلل کیږي او څه چي يي په مذاق برابرنه وي، ناروااوله دیموکراسي سره خلاف ښکاري ، له همدي امله څرنګه چي امریکااسلام دخپلو منافعو په وړاندي خنډبولي اوپه طویل المدت کي تري ویریږي، نوپه هره ممکنه وسیله هڅه له خپلي مخي لیري کیدل غواړي ، په ځانګړي توګه چي اوس يي پخواني نړیوال حریف اوسیال شوروي اتحاد اویاپه بل عبارت نړیوال کمونیزم هم دافغان جهادله برکته دتاریخ کندي ته سپارل شویدي .

امریکااواندیوالان يي له اسلام سره په دښمني کي دومره ډوب دي، چي پرمسلمانانوباندي ظلم اوتیري په سترګونه ویني اونه ورته دمرستي لاس اوږدوي ، خوکه دمرستي غږداسلام اومسلمانانوپه خلاف وشي نوبیاورته په غبرګو ولاړوي. دعراق پایمالول دهرچاښه په یاددي ، خواوس چي دبوسنیا مسلمانان ترتیغ تیریږي، هیڅوك يي دمرستي غوښتني غږنه اوري ،لاداچي اوس داسي پریکړي کیږي چي بوسني مسلمانان له خپل کورڅخه مهاجراوغاصبو صربیانوته دتیري انعام وركول کیږي . لکه څنګه چي تردي وړاندي يهودوته داسي انعام ورکړل شوي، په فلسطیني خاوره کي دغاصب صهیونستي هیوادجوړول اوددغه ملاتړ

ددویم فلسطین دجوړیدووهڅې

رحماني

دفلسطینیانوپه وړاندي دامریکااودهغه داندیوالانواسلام دښمنانه دریځ ، دهند وانوپرخلاف دکشمیري مجاهدینوله مبارزي سره مخالف اودغاصبوهندوانوڅخه حمایت اوپاکستان ته دتروریزم سره دمرستي په بهانه اخطارونه ورکول داستعمارڅیره ښه بریندوي ، ولي بیاهم داسلامي هیوادونو په نامه مسلمان او ناعاقبت اندیشه مشران دامریکادول ته نڅاکوي اویدلي يي بولي، بیاهم له اسلام څخه ځان لیري ساتي ترڅودامریکاملاتړترلاسه اوخپل سیاسي عمراوږدکړي ، خوحقیقت دادي چي امریکا هغوي حتي دمسلمان په نامه هم نشي زغملاي ، ځکه چي امریکاداسلام له نامه سره الرژیك دي، اوس هڅه کوي چي په اروپاکي نوي فلسطین جوړکړي اوبوسني خاوره صربانوته رسماً وسپاري. دبوسنیاخلك چي کلونه کلونه دکمونیزم ترشکنجي لاندي و، اصلاً له اسلام نه پوره خبرنه دي، او نه داسلام احکام بشپړ تطبیقوي، خوڅرنګه چي دقوم په اساس مسلمان اواسلامي هیواد بلل کیږي . اوس يي حالت دي ته رسیدلي چي له خپلو سیمواوکورونوڅخه وتلوته مجبوریږي ، خوځوك يي غږنه اوري

دوحشي صربانو له خواچي په عصري وسلو مجهزدي ، تراوسه دبوسنیا په زرګونوکورونه وران شوي، په لکونوخلك وژل شوي اوپه زرګونو ښځي يي پته شویدي، بوپربل پسي بباورونه لاندي کیږي

اواصلي اوسیدونکي يي تیښتي ته مجبوریږي ، خونه یوازي دبشردحقوقو علمبرداران دهغو مرستي ته نه ورودړاندي کیږي، بلکي نوروته هم اجازه نه ورکوي چي مرسته ورسره وکړي اوپه دي نامه چي دیوګوسلاویاټولو آزادشووجمهوریتونوته دوسلي لیږل بنددي ، تش لاس بوسنیايان دپه وسلو مجهزوصربیانورحم وکرم ته پریښي دي ، خوله دي وړاندي په سلوانیا اوکروشیاکي داعمل نه دي ترسره شوي، حتي صربیانوته اخطارورکول شوي و، چي که دتیري خیال ولري نودنظامي ځواب انتظاردي وباسي، ځکه چي هغه مسیحیان وخواوس چي خبره دمسلمانانوده هیڅوك يي نظامي مرسته نه کوي، دبوسنیامشران چي هرڅومره چیغي ووهي، چي وسله دي ورکړه شي ،ترڅودوي خپله دفاع پخپله وکړي، داواززي څوك نه اوري ، بلکي په خبروصربیان محکومیږي اوپه عمل کي ورسره نظامي مرسته کیږي، په ځانګړي توګه دمسکو له خواچي داهم دواشنګټن په اشاره دي

اوس خبره دي ځاي ته رسیدلي چي دبوسنیااصلي اوسیدونکي چي مسلمانان دي له خپلو ښارونو اوکلیوڅخه ایستل کیږي اودمحفوظو سیمویه نامه کمپونوته تیل وهل کیږي ، چي داپه حقیقت کي دفلسطین دفاجعي تکراردي ، لکه څنګه چي هلته دیهودوتجاوزعملاً په رسمیت وپیژندل شو،دلته دصربیانو ظلم اوتیري په رسمیت پیژندل کیږي. دتعجب ورخبره خوداده چي داکاردنړیوالي اداري اوپه اصطلاح دامنیت شوري له خوا ترسره شو او پریکړه يي وکړه چي بوسنیان دي په محفوظو سیموکي غیرمسلح له صربیانو څخه وساتل شي چي داکارپه حقیقت کي دصربانودتیري اوتجاوزانعام دي .

داهم باید په یادولروچي دمحفوظو سیمرپیشنهاددصربیانواودهغودپخوا ني بادار مسکوله خواطرح شوي، چي دادي دامریکاله خوامنظوراوپه امنیت شوري کي تصویب شو، پدي شکل عملاً دغاصب نړیوال ملاتړوشو. دادوهم ځل دي چي نړیوال استکباردیوه اسلامي هیواد په ځاي دغیراسلامي غاصب هیوادجوړول تصویبوي. پداسي حال کي چي اسلامي نړي ورته لاس ترزني ناست دي هیڅ عکس العمل نه ښئي .

اسلامي هیوادونه باید داخبره ښه درك کړي، چي که همداسي خپلي غلامي ته دوام ورکړي نو یوپربل پسي به داستعمار دتوطیو ښکارکیږي، په یوه اوبل نامه به له منځه ځي، اصلي هویت به له لاسه ورکوي اودپردوډغلامي په کړیوکي به راګیریږي ، تراوسه هم لاوخت شته، پکاردي چي مسلمانان خپل اصل ته راوګرځي، داسلام اصول خپل کړي، دپردوله غلامي څخه ځان وژغوري ، یوبل ته داسلام دسوچه اصولو په رڼاکي لاس ورکړي او غښتلي اتحاد اوسازمان جوړکړي . خپلي ستونزي دنوروغاړي ته ورواړه چوي بلکي پخپله يي حل کړي .

که غواړي چي مسلمانان ژوندي پاتي شي اوآزادژوند وکړي، نوداسلام په اصولو دي عمل وکړي. ګډه قضایي کمیته اوحتي ګډپوځ دي جوړکړي ، داسي چي دهرغاصب مقابله وکړاي شي، اوکنه نوبیادتحکمي له مخ څخه دهغي مخ ورته ډیرغوره دي، ځکه چي یوه ورځ ازادي، له سل کاله په غلامي کي ژوند څخه بهتره ده .

ماریرخط وخال استعمار

عبدالرؤف "طینت"

دراین روزها شهرتاریخي جلال آباد شاهدرویدادعظیم ونقطه عطفي درحیات جامعه اسلامي ما ونقطه پاياني برمنازعات ذات البیني تنظیم هاي جهادي که اغواګري هاي استکبار جهاني آنهارابجان هم انداخته بود، بیشترجلب توجه میکند. تلاش شوراي محترم جهادي ولایت ننګرهار،علما و روحانیون درهموارسازي دستیابي بیك راه حل صلح آمیزوفابق آمدن توافق تاریخي درتاریخ کشورمابخطوط زرین ثبت خواهدشد. این ګردهم آیي افغانها رویدادهاي بزرګ تاریخي را بخاطر مي آوردکه افغانهاي باشهامت مسائل مهم وذات البیني شانرادرداخل کشوربدون دخالت دیګران حل وفصل میکردند . دراین ګردهم آیي مسائل خیلي هامهم وحساس منجمله تعیین زعامت نیزشامل میګردید. تجربه نشان داده است هرزمانیکه افغانها دست به تشکیل ګردهم آئي هاوشوري هازده اند ولوموضوعات مورد بحث درین نشست هاخیلي بغرنج وپیچیده به نظررسیده است، موفقانه آنرا حل وفصل نموده اندوهرقدریکه دست اجانب دراین راستاذیدخل مسائل ګردیده است ، موانع متعدددرمقابل آن قرارګرفته که دست یابي به اهداف غائي را دشوارترساخته است .

نشست سران محترم تنظیم هاي جهادي درجلال آباد ازچنین ویژګي هاي برخورداربود. این اجلاس نشان داد افغانهاهمانګونه که دررویاروبي نظامي ازخودکارداني وبرازندګي زایدالوصفي نشان دادند و افسانه شکست ناپذیري ارتش سرخ راکه زبان زدکاسه لیسان استعمارسرخ بین المللي بود درقبرستان تاریخ مدفون ساختند، همچنین آنهاقادراندتادرعرصه سیاسي منحیث دولتمردان متجرب وکارآزموده واردعرصه شوند. آنها به اثبات رسانیدند که برخلاف تبلیغات بنګاه هاي نشراتي غرب درعرصه چهارده سال جهادمسلحانه ازپختګي کامل سیاسي وازتأمل درامورو تدبرسیاسي برخوردارشده ودرکوره راه مبارزه سیاسي آبدیده شده اند . دشمن که ازتوافق اخیرتکان خورده ودارد خویشتن رابراي نمایش دراشکال مختلف برروي صحنه میآورد، همان تلاش موذیانه ومذبوحانه خویش رادربي اعتبارساختن این میثاق که برعهدنامه اسلام آبادوتطبیق آن مهرصحه مي ګذارد، بخرج مي دهد.. این تلاش هاي دشمن بصورت غیرمترقبه نیست، بلکه دخالت درهمهٔ عرصه هاقابل پیش بیني ودرك است. باتوجه به آنکه استعمارسیاه چګونه موقفي را درقبال نهضت هاي جوان اسلامي درجهان پالیسي روزخود قرارداده است وعدوت وکین دیرین غرب ومسیحیت بااسلام ریشه هاي عمیق تاریخي ، مذهبي، ثقافتي وغیره دارد، بناءً ابعاد مداخلات آنهادرهمه شئون مربوط به نهضت هاي اسلامي قابل پیش داوري وپیشبینه ګوئي است . آنهائي که خوددم ازدموکراسي پارلماني وتعدداحزاب مي زنند وبارها حکومت هاي مختلف جهان راهدف الزامات بي اساس خویش مبني برنقض صریح قوانین حقوق بشر قرارداده اند، ولي انتخابات کشورالجزایرراکه درآن پیروزي (جبهه نجات اسلامي)قطعي بنظرمیرسیدبانصب نظامیان و چکمه پوشان استعمار، قدغن نموده، انتخابات را غیرقانوني دانستندوفعالیت احزاب راممنوع نمودند وآنهائیکه مظالم صرب هارا درمقابل مسلمانان بوسني مشاهده نموده ناظرصحنه اندوبه صرب هاتحت صیانت قطعنامه هاي سازمان ملل اجازه مي دهندتاآن قسمت ازاراضي مسلمان نشین راکه درطول جنګ هاي نابرابروغیرعادلانه متصرف شده اند، همچنان دراشغال خودداشته باشند وغیره، چسان میتوانند درقبال انکشافات کشورعزیزمان بي تفاوت باشند؟ آنها افغانستان رابحیث مرکزیه اصطلاح بنیادګرايي اسلامي مي شناسند واکنون آنعده از عرب هاي راکه دوشادوش مجاهدین برعلیه دیوسرخ رزمیده اندوآنهاالګوي خوبي براي آموختن فن مبارزه وجهاد مسلحانه براي رژیم هاي محافظه کارعرب بحساب میروند، مي خواهند ازپاکستان اخراج نمایند. افغانستان بعلت موقعیت مهم جغرافیايي وداشتن علایق کلتوري، مذهبي، منطقوي باهمسایګان خویش واینکه نهضت اسلامي به طیب خاطروبه سرعت میتواند استعماررا دراطراف خویش نابودسازد، توجه غرب وبالاخص امریکارابخودمعطوف ساخته است.

متکي برطرح هاي ماجراجویانه دشمنان اسلام بودکه میان دوتنظیم بزرګ مجاهدین (حزب اسلامي وجمعیت اسلامي) باایجاد جونامساعدوکاشتن تخم نفاق بااشکال مختلف زمینه درګیري هاي مسلحانه رابوجود آوردند . غرب ازاینکاردرچندین بعدسود جوئي کرد.

نخست بافراهم نمودن زمینه درګیري هاي مسلحانه خواستند تانهضت جوان اسلامي رادرجهان بدمعرفي نمایند واین اوضاع متشتت راکه خودبوجود آورده اند ، مسؤول آن نهضت اسلامي رامعرفي نمایند .

ثانیاً درګیري هاي مسلحانه میتوانست هردوجانب راتضعیف نمایدودولت امریکاخواهان آن بودتااین وضع بن بست نظامي که درآن یکي ازاحزاب هم برتري نظامي بردیګري حاصل نکند، حفظ شودتا ازتشکیل یك دولت مقتدرمرکزي دریك چنین موقعیت حساس جلوګیري کرده باشد .

ثالثاً جنګ وکشمکش جنبش رابسویه بین المللي درانزواي سیاسي مي کشانید وافکارعامه رادرمقابل آن قرارمي داد .

رابعاً ادامه درګیري امکانات نظامي هردوجانب رادرکام خود فرومي بردودولت امریکابهمان هدف دیرین خودکه دست نیافتن نهضت هاي اسلامي به امکانات نظامي وبالاخره خودکفاشدن ازنقطه نظرنظامي بود، دست مي یافت وهردولتي که درآینده زمام اموررابدست مي ګرفت ازنقطه نظر نظامي ضعیف مي بودونمیتوانست همه اطراف واکناف کشورراکنترول واداره نماید. متکي بچنین سیاست هاي بودکه بعدازعقب نشستن ارتش سرخ ازافغانستان ، دولت امریکاسعي به برچیدن راکتهاي زمین به هواي نوع (ستینګر) خودکردوحاضرشددرمقابل آن پول هنګفتي بپردازد .

خامساً ادامه درګیري هادولت مرکزي راضعیف مي ساخت ودولت امریکابه سادګي میتوانست جاسوسان واشخاصي راکه به پول خریداري نموده بود، براي ایجاد وضع پرآشوب وتفرقه میان صفوف مجاهدین روانه کشورما سازد. بوجود آمدن این چنین وضع فعلاً درکابل قابل لمس است . همچنین در ولایات کشورامکانات دخالت مستقیم دشمنان تمامیت ارضي وحاکمیت ملي بیشتر زمینه سازي میګردید .

سادساً انقلاب اسلامي نمیتوانست به سرعت درخارج ازمرزهاي کشورامپریالیزم بین المللي را نابودسازد .

برهمه امت مسلمان است تاباتماء قوت درمقابل پلان هاي خصمانه دشمنان قرارګرفته دسایس خاینانهٔ آنان رانقش برآب سازند واتحاد واقعي واخوت اسلامي راملاك عمل خویش قراردهند .

~ قوماندانان محترم جهادي وظایف بس خطیري رادربه تعمیل درآوردن مفاد قراردادنشست سران درجلال آباد وعهد نامه اسلام آباد به عهده دارند . اینان باید به جوانب متخلف اجازه ندهند، اوضاع امنیتي رااخلال ووضع رابغرنج ومتشنج سازند وعناصرخاین بوطن و اسلام راشناسائي نموده، جانب متناقض این پیمان راسرجاي شان بنشانند .

دمتحده ...

دروسیي مشران پدي باور لري چي ددوي اصلاحات کامیابیدونکي دي هغه زیاته کړه چي ده یلتسین ته وویل چي روسیي ته دلویدیزمالي مرستي ددغه ملك دسیکي په ثبات کي دکامیابیدوحاصلولو سره اړه لري.

شوراي امنیت سازمان...

قرارګزارش هلیکوپترهاي امریکاني سه ګودام اسلحه رادر نزدیکي موګادیشومرکز صومالیا بمباران کرده اند . که ګویامربوط جناح مخالف ګروه " محمدفرح ریدي " بوده است .

په جرمني کي دترکانو...

ني په زورنګین کي (٥) ترکاني ووژلي دقتل اودقتل دکوښښ په جرمونو باندي ترتحقیق لاندي نیولي دي .

دپاکستان-افغان پالیسي په اړه دبیرسترثمین خان مشوری اودافغانانودل آزاری

له پېښورنه خپرېدونکي پښتوورځپاڼي د۱۹۹۳ میلادي کال دمئي دمیاشتي په شلمه نیټه دیکشنبي په ورځ ښاغلي بیرسترثمین خان داردومضمون پښتوژباړه " دپاکستان افغان پالیسي څه رنګه په کارده " خپره کړي ده ښاغلي بیرسترثمین خان په خپله مقاله کي لیکلي چي بوولس کاله بي دافغان جهاد په اړه کارکړي اوشپږمیاشتي بي په کابل کي هم تیري کړي دي، ښاغلي ثمین خان بخپله لیکنه کي دافغانستان وضع اوقامي حالات دخپل نظریه ساحه کي خپرلي اوددول دول اندیښني بي څرګندي کړي دي، داسلام آباد معاهدي دعواقبو په باب بي خپل تاثرات لیکلي خودپیښورمعاهده چي په واقعي دول بي په نتیجه کي روانه ستونزه رامنځته شوي اوهم دغه معاهده، زمورجهاد له ارمان اواهداقوسره بیخي مغایره وه، دهغي په باب بي څه ویل خولاپریږده چي حتي اشاره قدري هم نه ده کړي .

موږښاغلي بیرسترصاحب دځینودجملوله رااخیستلو وروسته پرهغي بوڅه تبصره کول غواړو:

ښاغلي بیرسترصاحب دخپلي لیکني په یوه برخه کي لیکي چي « دمغربي بلاك کوشش دادي چي افغانستان لبنان یاصومالیه جوړه شي اوافغانان همیشه دپاره په خپلوکي غوبنه چاره پاته شي »

همدارازثمین خان صاحب له پورته پاراګراف نه لږڅه مخکي لیکي چي « دپښتنواوتاجکودخانه جنګي په وجه داامکان نه شي نظراندازکیداي چي افغانستان تقسیم شي، دافغانستان دماتیدو په صورت کي به قطبي افغانستان دتاجکستان سره یوځاي شي اودمتحده تاجکستان ریاست به قایم شي اوپښتانه به دپاکستان دصوبه سرحد اوبلوچستان پښتنوسره یوځاي

ابوانس

شي اودغسي به یومتحده اولوي پښتون ریاست جوړشي، له دي نه علاوه داهم کیداي شي چي دافغانستان نه دویم لبنان جوړشي اوکابل بیروت شي ».

که دښاغلي لیکوال لیکني ته ځیرشونو په سرکي تري دابنکاري چي دغه جناب له دي سیمي سره هیڅ اړیکي نه لري او لکه دیوه غربي (......) په ځیربه بوازخپزدول خپل راپورمسوولو مقاماتوته وراندي کوي ، بوازي دافغانستان حالات ترنظر لاندي نیسي اودسیمي نورګاونډي هیوادونه لکه پاکستان اوایران بیخي له نظره غورځوي ، محترما ! که خداي مه کړه افغانستان دقام اوږبي په بنسټ تجزیه کیږي نوبه پاکستان کي ناسیونالستي تحریکونه له نظره مه باسئ ، بیاخو به په فطري دول دسندودیش ، لوي پنجاب، دبلوچانو اومکوانیانومتحده حکومت رامنځته کیدل اوهمداراز ستاسي په وینادلوي پښتون ریاست جوړیدل دپاکستان خداي (ج) مکره خداي مه کړه نوم اونښان دغه دناسیونالیزم سیلاب له ځان سره یوسي اوهمدادول به دآسیادلویي وچي لوي اوواړه قامونه په کوچنیو کوچنیو ریاستونو وویشل شي اود غربیانودمستقیم استعمارله پاره به دیوي پخي مري حیثیت ولري.

جناب والا! تاسي ویلي مغرب غواړي چي په افغانستان کي دغه دقامولي په نامه کورني جنګونه دوام وکړي . او هم په افغانستان کي دبنیاد پرستواسلامي حکومت ته خوښوي .

• ښه نوچي داسي ده دیوه پاکستاني په حیث دپورته خطراتوپه نظرکي نیولو سره ولي دپاکستان حکومت ته دافرادو دانتخاب په ځاي

داسي مشوره نه ورکوي چي باید داسلام دمحکمي رسۍ په تینګونیولو سره باید دټري مسلمانان عموماً اودپاکستان ، ایران اوافغانستان مسلمانان خصوصاً په ګډه اواسلامي ورورولي دلوراوتیت له توبیر پرته ددغه توطیي مخه ونیسي، اوکه داسي ونه شي نو دآسیالویه وچه اوپه تیره تیره هند، پاکستان، افغانستان اوایران به په هیڅ دول له دغه توپان نه په امان پاته نه شي ساتي چي بیرسترصاحب ته به دعلامه اقبال هغه شعرچي دافغانستان په باب ویلي وګادوي :

اسیابك پیکرآب وګل است
ملت افغان درآن پیکردل است
ازکشادا وکشاد آسیا
ازفسادا وفساد آسیا

دغه رنګ ښاغلي لیکوال لیکي : «پاکستان به څه قدم اخستونه وراندي دافیصله کوي چي په افغانستان کي به دمستقبل مرکزي شخصیت څوك وي» بیابوځوجملي وروسته لیکي چي : دپاکستان داوسني پالیسي نه داسي ښکاري چي داسلام آباد دمعاهدي په ضمن کي پاکستان دګلبدین حکمتیارمرسته کوي، ماپخپله ذاتي طورهم دافغانستان دمستقبل دواکمني له پاره ګلبدین حکمتیارخوښ کړي و اووجه بي داوه چي یوخوهغه پښتون دي اوپښتانه که هرڅوافغانستان کي غالب اکثریت نه لري، خوداحقیقت نه شي نظراندازکیدي چي له تیرو دوو سوو کالونه دافغانستان حکمراني دپښتنویه لاس کي پاتي شوي ده، دویمه داچي ګلبدین حکمتیارهم دپاکستان داي، ایس آي پیداواردي، خودنورو دلودمشرانوپه ځیربي اثره نه دي پاتي شوي ».

محترما ! تاسي ته دي یاده وي چي دختیځ اولویدیځ المان دیوځاي کیدو پروخت دهغه هیواد ددوارو

برخومشرانوبه خپلومنځوکي دافیصله کړي وه چي دمتحدجرمني آینده مشربه څوك وي، نه داچي کوم بهرني اوپاګاونډي هیواد دافیصله کړي وي چي دمتحدجرمني راتلونکي قیادت باید دچاپه لاس کي وي ، که دپاکستان حکومت دافغانستان دراتلونکي قیادت په باب فیصله کوي ددي معني به څه وي ؟ آیادستاسي له مشوري سره سم که دپاکستان حکومت دغه کاروکړي نودغه کاربه بي دافغانانو هغه تیرڅلوینښت کلن ذهنیت چي تاسي ورته اشاره کړي بیاراتازه نه کړي ؟ آیا دپاکستان دغه مستقیم عمل به له افغانانو سره دپاکستان په ځوارلس کلنو خواریو اومشکلاتوزغملو دبطلان کرښه رانښکل نه وي؟

جناب والا ! تاسي چي دافغانستان دراتلونکي قیادت په حیث مجاهدوروروحکمتیارغوره کاوه، هغه مهال اواوس هم باید دادرك کړي چي حکمتیاردپښتواوپښتنوله پاره میدان ته راوتلي نه دي اونه افغان قوم خپل مقدس جهاددقوم اوقومیت په نامه پیل کړي دي ، افغانانو خودیونیم میلیون مسلمانو هیوادوالو قرباني په دي خاطرورکړي چي خپل هیواد دروسانواودهغوي دمزدورانو له تسلط نه آزادي کړي اوپرځاي بي الهي نظام قایم کړي .

نودغه دپښتواوپښتون خبره ښایي ستاسي دخپل ذهن اختراع وي سره له دي چي مامخکي وویل چي زموږجهاد هیڅکله دقوم اوقومیت په نامه نه و، نه دي اونه به وي دافغانستان ټول قومیتونه دګران هیواد اوسیدونکي اوسره ورونه دي اوهرهغه څوك چي دتعصب اوکرکي دغه اورته لمن وهي، پخپله به لکه دترکي، امین ، ببرك اونجیب په څیربه دغه اورکي وسوزي دحزب اسلامي قایدهیڅکله دپښتون ، تاجك ، هزاره،ازبك ، نورستاني اونورو قومونو خبره مطرح کړي نه ده اونه به بي کړي اوکه هرڅوك دغه اورته لمن ووهي دافغانستان دمسلمان ملت له کرکي اونفرت سره به مخامخ شي

(۷)مخ

نخستین نبرداعراب بااسرائیل

ترجمه : عبدالهادي

مولانامظهرعلي کامل سابق رئیس مجلس اتحادالمسلمین حیدرآباد دکن درآوان اشتعال نخستین جنگ اعراب واسرائیل درسال ۱۹٤۸ میلادي مصروف بازدیداز مصربود . نامبرده درترکیب هیئتي ازطرف حکومت حیدرآباد ماموریت داشت توجه جهان اسلام رابه مسئله تسلط هنددرین منطقه معطوف نموده وحمایت کشورهاي اسلامي راازخواسته هاي مسلمانان مسکون دراین ایالت بدست آورد.

خاطرات سفرمولانامظهرعلي کامل به انګلیسي ترجمه شده ودریکي ازروزنامه هاي چاپ پاکستان به نشررسیده است . باتوجه به اهمیت موضوع وبااین منظورکه چګونه عمال دشمن بطورمرموز وباماموریت ظاهراً صلح خواهانه واردصحنه مي شوندوضربه جبران ناپذیري را بربیکرجهان اسلام بخصوص اعراب وفلسطیني هاي مظلوم وستمدیده واردمیآورند ؟ ترجمهٔ دري آنراجهت آګاهي بیشترخوانندګان به نشرمي سپاریم . درین ترجمه میخوانیدکه آتش بس درآخرین لحظات پیروزي نهایي مسلمین ، زماني تعمیل مي شودکه رژیم غاصب یهود درلبه پرتګاه سقوط حتمي ونابودي ابدي قرارګرفته بود. استعمارګران باتأمین آتش بس توانستند ازدست یابي مسلمین به پیروزي نهایي جلوګیري کنند. باتأمین آتش بس ومتارکه بقاي اسرائیل راتضمین کردند، سرزمین اسلامي رادرقبضه یهودیان ګذاشتندودرګیري درازمدت بین اعراب واسرائیل رابا همین آتش بس غرض آمیز اساس ګذاشتند که سالها ادامه داشته وادامه خواهدداشت .

۱۵ مي ۱۹٤۸ :

درین روزحکومت مصرعلیه رژیم یهود رسماً اعلان جنګ داده نیروهاي مسلح خودرا به جبهات نبرداعزام کرد، قوانین نظامي درادارات حکومتي نافذګردیدودربخش پست خارجي سانسورجدي آغازشد.

وقتي ماازمحل سکونت خود (هوتل مینا) بیرون شدیم مردم درمورد جنګ و آزادي فلسطین باهم صحبت میکردند همه میدان هاي هوایي برروي پروازهاي ملکي مسدود شده بود دولت مصراعلان کردکه درصورت ضرورت ، ازطیارات ملکي وابسته به هرکشوریکه باشند، براي مقاصدنظامي استفاده مي شود .

۱٦ مي :

یهودان ، تشکیل حکومت شان را اعلان کرده بودند امریکااین حکومت نوبنیادصهیونستي رابرسمیت شناخته بود. درین روزهمه اعراب نیروهاي شان رابه جانب فلسطین سوق دادند ، علاوه براردوي منظم عربي ، هزاران مجاهد رضاکارودا وطلب به صفوف جهاد پیوستند، روح تازه وبي سابقه اي درکالبدنیم جان اعراب دمیده شده بود.

طبق ګزارش روزنامه ها، درین روزنیروهاي مصري باموفقیت کامل پیشروي کرده وتعدادي ازپایګاه هاومواضع یهودان رافتح نمودند، نیروي هوایي مصرتل ابیب رابمباران نمودویك فروند طیارهٔ یهودان که داخل حریم فضایي مصرګردیده بودمجبوربه فرودآمدن شدوبه غنیمت نیروهاي مصري درآمد، این طیاره محموله اي ازمواد ومهمات نظامي رابه اردوي یهوددرفلسطین اشغالي انتقال میداد.

۱۷ مي :

درین روزمن همراه بااسراراحمدفاروقي، عبدالقدوس هاشمي وشاهدحسین رزاقي، باصالح سماوي سکرتر جنرال اخوان المسلمین ملاقات نمودیم و سپس همه باهم به دیدارعبدالکریم « ریف» رفتیم. درجریان ګفتګوها، پیرامون جهان اسلام نیزصحبت نمودیم، عبدالکریم ریف ضمن پاسخ به یك سوال ګفت: افریقاي شمالي باید هرچه زودترآزادشود.

طبق ګزارش ها، درین روزارتش عربي ازهمه جناحهابه سوي فلسطین تاخته واین منطقه راکه تحت اشغال یهودان بود موردحمله قراردادو بسوي هدف پیشروي نمود. نیروي هوایي مصرطورمستمر اهدافش رادرتل ابیب بمباران میکرد، درین روزیهودان بیت المقدس محاصره شده بودند، رهبر یهودان بیت المقدس اعلان نمودکه ایشان حکومت اسرائیل راتمي پذیرند . درین روز نیروي دریایي مصر علیه نیروي دریایي دشمن حمله نمودویك فروند کشتي باربري یهودان راکه حامل سلاح ومهمات نظامي به ارتش یهودبود همراه بامحموله اش غرق کرد .

۱۸ مي :

جنګ آزادسازي فلسطین روز بروزشدت میګرفت، مصري هابه استثناي جنګ ، روي هیچ موضوعي صحبت نمیکردند. وقتي موضوع همکاري ومعاونت بمیان آمدچنان معلوم شدکه فرد فرد مسلمین آمادهٔ هرګونه همکاري صادقانه ومخلصانه هستند.

درین روز ماوقتي ازمیان میدان (قصرنیل) عبورکردیم هزاران عراده لاري رامشاهده کردیم که درګوشه اي پارك شده بودند. این لاري هاازجمله کمکهاي ملي بودکه مردم بخاطررفع مشکلات جنګ بایهود، براي دولت هدیه نموده بودند. ارتش عربي که ازچهاراطراف یهودان را موردحمله قرارداده بود به پیشروي وفتوحات تازه نایل شده بود، نیروي هوایي مصرهمچنان تل ابیب وبعضي اهداف دیګرنظامي دشمن را بمباران میکرد.

۱۹مي :

طبق ګزارش اخبارو روزنامه ها، نیروي هاي عربي بامقاومت شدیدیهودیان مواجه شدند، نیروي هوایي مصرهمچنان اهداف استراتیژیك درمناطق اشغالي رابمباران میکرد .

ادامه دارد

بخاطرمسجد بابري

برادرطارق «براء» متعلم صنف دوازده لیسه سیدجمال الدین نامه بي ارسال کرده اند ودرمحورشهادت مسجد بابري بدست هندوهاکه سال ګذشته بوقوع پیوست مطالبي ارسال کرده اند.

آنها ضمن محکوم ساختن این عمل هندوها ازتاریخ روشن اسلام نکاتي رایادمیکنند و خواهان سرکوبي متعرضین میشود .

دربخشي ازنامه آمده است : قول عمررضي الله عنه بیادمي آیدکه میفرمایند :" هیچ قومي جهادراترك نکردند مګر اینکه خواروذلیل ګردیدند".

" قول سیدجمال الدین افغان مبارزاسلام بیادمي آیدکه میګوید دریحرخون آب بازي کنیدتاساحل آزادي برسید.

شهادت :

برادرعزیز بهترین جهادبراي تلافي هرګونه مصیبتي ازجمله حمله هندوها برمسجد بابري این است که مسلمانان ابتدا درساختن یك جامعه سمبول ونمونه اسلامي کارنمایند. اګران شاء الله چنین شددرهمه نظام هاي ظالمانه کفروشرك شکست مي آیدوفوج فوج مردم داخل اسلام میشوند.

##

پاسخ به چندنامه کوتاه

محترم ورور محمدنعیم مومند، لیك موراورسید زموږله پلوه هم سلامونه ومنه وروره ! شهادت زموږدملت ژبه ده اودملت دپاره خپرېږي او بهرنیو له پاره بعضي مخصوص نشرات شته دي.

ستاسي یوه ټوټه شعرواوسیدخودڅه نیمګرتیا په اساس له نشرڅخه پاتي شو. امید لرو دشعربه هکله زیاته ځیرنه وکړي اوقلمي رابطه له موږسره جاري وساتي .

په درناوي .

برادر عبدالباري سعادتیار ازلیسه مولاناجلال الدین بلخي نامه ئي دارند، آنها زندګینامه مختصر انجنیرصاحب حکمتیارراخواستارشده اندکه امیدواریم به نشرات مختلف حزب مراجعه کنند. وامادرمورد اعلان تغیراسم آقاي سعادتیار توضیح میشو دکه بااعلانات تغییراسم مثل دیګراعلانات طبق لایحه معامله میشود. به این منظورآنهابه نمایندګي شهادت درچمکني مورپشاور مراجعه کنند.

وهمینطورآقاي محمدایوب نجرابي که سندفراغت شا ن مفقودشده است .

یك برادردیګربه اسم ګل هاشم که "صدام" تخلص کرده ، درنامه ئي ګفته اند: دوستي داشتم بسیارنزدیك وقریب ولي این دوست درحق ما جفاي بزرګي کرده ومقداري زهرادرغذاي مارېخت که نزدیك بودمن ویك دوست دیګرم رهسپار آن جهان شویم للامن به خوانندګان شهادت توصیه میکنم درانتخاب دوست بسیاردقت کنند، ازتوصیه شان تشکر .

آقاي شاژمان درسلسله نامه هاي که به شهادت ارسال کرده اند یکي هم نامه بي است تحت عنوان " خانه جنګي هاي داخلي خاتمه یابد" ازتنظیم هاي که تحت شعارقومي وزباني میخواهند اقتدارداشته باشندشکایت میکنندوازعلماوموسفیدان میخواهدکه براي ساختن یك حکومت اسلامي وشکست توطیه متحدشوند .

##

زموږمشره حکمتیاره باوقاره
زموږژغ ته لبیك وایه په تلواره
اي دقوم افتخاره دملحدودلازاره
افغانان وږغوره راشه بي تنګي نه
زموږېلاره
زموږه تنګ زموږغفت زموږ ملیاره
زموږ مشره حکمتیاره ، حکمتیاره
دشهادت ورځپاڼي محترم مقام ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

له لوي څښتن تعالي څخه ددي ورځپاڼي تولو چلوتکوته دروغتیا اوسلامتي هیله لرو اوهیلمندیو چي په خپلو تولوروزمره چاروکي بریالي اوسئ .

محترمو ورونو! موږدافغانستان یو شمیرمسلمان افغاني ځوانان له دیره وخته په پیښور کي اوسو په اوس وخت کي کوم شي چي زموږدخواشیني وردي زموږ دګران افغانستان په لوټو، مېڅو اونجونو ته دځیني پاکستاني لوفرا نواواوباشانو له خوا په دیرېدنظرکتل کیږي چي حتي له بوڅواوتیو څخه راپډي خواد پاکستاني ګادي ، افغاني میرمنو ته پرته له توپیرپریك نیسي اوله هغوي نه موږته دپورته کیدو خواهش کوي چي داهرڅه دهغه بونعداد بدعملو کمونستو افغانانوله کبله دي چي پدي خوزمیاشتوکي له کابل څخه دلته پېښورته راغلي دي په افغان شرمیدو اعمالو بي لاسونه پوري کړي دي موږ

څوځلي په سل هاوو اخطاریه پاڼي په دري ، پښتو اوحتي اوردو ژبو خپري کړي مګرهیڅ فایدیي ونه کړه او دغه سپکاوي نورلاپسي زیادشوي دي چي داپخپله زموږدافغاني شرف، ننګ ، عزت اواسلامیت ته یوغټ توهین اوسپکاوي دي نوځکه موږفیصله وکړه چي ستاسو ددي ورځپاڼي په ذریعه خپل ږغ زموږ ګران لاربنوددافغانستان اسلامي دولت صدراعظم صاحب ته ورسوو چي ددغواوبي ننګواوبي ناموسوله حالت نه خبرشي موخپل محترم اومحبوب رهبرته وایو !

اي زموږه مشره !اي زموږه وقاره ! اي زموږه عزته ! اي زموږه شرفه ! اي زموږ دآزادي سمبوله ! اي زموږ غیرته ! اواي زموږداسلام ځلي !

تن ته چیري یې دخداي (ج) په لحاظ زموږ دملت عفت اوننګ وساته ستاسودتللونه پس پیښورموږته دوزخ شویدي ته زموږ ننګ اونه عفت په امان کي دي ، موږ وږغوره ، موږوږغوره موږ وږغوره ...

یوځل بیا خپل زمریالي دمجاهدینو یوګروپ پیښور ته واستوه اوخپل نورمسلماني خویندي میندي لوڼي له دي بدنامي نه وژغوره ، چي ترڅوددي بي عفتي نه خلاص شو اوهم دجهاد یورکن اداکړي وي .

محترم حکمتیارصاحب تاسونه په ډیردرناوي هیلمندیو چي زموږږغ ته لبیك ووایاست، موږله تاسو سره یو په هرمرحل کي دجهاد ، ومن الله توفیق دپیښوردمسلمانو ځوانانو دګروپ لخوا

###

مردحق،مرددین، گلبدین،گلبدین

یکي ازخوانندگان شهادت نامه ئي دارند،این نامه درعین حالیکه کرسي صدارت رابه برادربزرگوارماانجنیرصاحب حکمتیارتبریک میگویدتقاضا داردکه وزراي مورد نظرآنها اهل کاروتعهدباشندوتکالیف جهادچهارده ساله مردم افغانستان راچشیده باشند.

زیراقرآن کریم فرموده است « به تحقیق خداوند شماراامرمیکندکه امانات رابه اهل آن بسپارید » حکومت اسلامي امانت بزرگ است وبایددرترتیب آن ازکمال توجه کارگرفت .

